


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: څه د خدای کارونه دي

لــــــیکوال: مـحمد نعیم وردګ

برېښنالیـك: www.naeem.afghan@gmail.com

مخ پاڼه(فسبوك) : نعیم جان بوډا

آنلاین چارې: انجنیر صفت الله (فضلي)

د لیکلو کال: ۱۳۹۷ هـ . ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ناول

دجمعې په ورځ به اکثره وخت کارت سخي زيارت ته تللم؛ کور ته مو لنډ دی، کوم مصرف مې نه پرې راتلو، نو په همدې اساس دا ځل هم دجمعې ورځ وه، تر کړکۍ مې وروکتل، په زيارت کې او زيارت ته څېرمه سمه ګڼه ګونه وه، زانګوګانې پکې ګډېدې، دماشومانو چغو پوغ و، سم دلاسه جګ شوم راساً ور روان شوم. بلاخېره زيارت ته ورسېدم، لږ هاخوا دېخوا مې سترګې وپولې، نور مستقيم لاړم په پورتنۍ سپاچه (برنډه) مې دسمال رالاندې کړو، کرار کېناستم، اکثره خلك فاميلي راغلي و، فرشونه يې هوار کړي و، ديګونه (پخلي) يې کول، چا هندوانې، خربوزې چاق کړې وې، ما هم مبايل راويستلو يو ملګري ته مې زنګ وکړ؛ له بدمرغه مبايل يې بند و، کني زړه مې و، چې را ويې غواړم، يوه هندوانه، مندوانه به موږ هم وخورو؛ خو دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنها پاتې شوم، څو دقیقې نور هم ناست وم، بلاخبره زړه مې تنګ شو، راپاڅېدم، له دوه، دریو سپاچو رانښکته شوم؛ په څلورمه دیوه ګلدان ترځنګ، دپیپسي دبوتلو او بسکوټو دکاغذونو مینځ کې یو غټ سامسونګ ګلکسي مبایل پروت و، زر پرې ورټیټ شوم دیو بسکوټ دکاغذ سره جوغت مې راپورته کړو، د اوږې د دسمال سره مې پېچلی لاس کې غلی ونیولو نور مې ونه کتلو چې روغ یې که خراب وېرېدم څوك دعوه پرې راونکړي، مستقیم ورسره راروان شوم دزیارت له ګنې ګونې را ووتلم، بهر دهدیرې منځ کې چې زموږ دکور لار همداسې پکې راتېره وه، غلی، غلی مې لږ، لږ وکتلو منځنۍ بټنه مې یې کلیك کړه صفحه یې روښان شوه، خو په داخل کې یې دنورې لاسوهنې لپاره رمز غوښتلو؛ واپس مې یې صفحه خاموش کړه، نور مې نو کرار دا دبغل جیب کې ورخوشې

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړو، سخت ورته خوشحاله شوم ځکه چې له یوې خوا مې تیار یو غټ مبایل ته ضرورت و، خپل مې نور له کاره لوېدلی و، او له تاسو یې څه پټه د اخیستلو پیسې مې یې هم نه لرلې، بلخوا که فکر موکړی وي، دامندلي شی هسې خوشحالي لري، خلاصه کور ته مې راورسولو، سم دم مې د کمپیوتر سره وصل کړو؛ رمز مې یې پرې والوزولو. د رمز د له منځه وړلو سره سم، په سکرین زما په سن دیو ښایسته زلمي تصویر رامخ ته شو، بیا مې کردیت پکې وکتل (۴۱۲) افغانۍ پکې وې، دا یې لا بله خوشحالي شوه، پسې پیام پاڼې ته لاړم دانترنټ معلومولو په پار (۷) مې (۳۴۴) ته واستول؛ واپس پیام راغلو (۲۴۰۰ ام بي) انترنیت هم پکې و، ها خوشحالي څه وه، چې دا یې لا بله شوه، له دې هر څه نه په دې خبره ډېر خوشحاله شوم، چې دغریب سړي نه دی، تر څو زړه یې پسې وخوږېږي، یا بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

وانخستلی شي، ځکه غریب سړی مبایل کې دومره کردیت او انترنت نشي اچولی، نور له پیام پاڼې راووتلم؛ چې کتل مې فسبوك هم خلاص تری پاتې وو، ډیتها مې پرې راچلانده کړه؛ ایډي یې د ( یونس افغان ) په نوم وه، ټوله ایډي مې سر تر پایه چك کړه؛ ډېر باادبه؛ دیني، هر اړخیزه علمي او معلوماتي پوستونه یې کړي و، پوستونو ته په کتو یې ډېر شریف، له انسانیت مالامل انسان ښکارې دو، واقعاً، وجداني نارامتیا یې راوچوله، زړه کې مې لړ لړ دا خبره وګرځېده: چې مبایل مې یې واپس ورته سپارلی وای، داسې شریف؛ او هېوادنیٔ مینې ته ژمن انسانان باید زما له لاسه خپه نشي.

په همدې فکر؛ فکر کې له فسبوك راووتلم، ګالري مې راخلاصه کړه؛ یو څو ویدیوګانې، دوه، دریٔ یې دعبدالله مقري، یوه دوې دنغمې او همداسې یوه یې دلطیف ننګرهاري، هغه میهني ویدیو پکې وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي، (لولفه شوم اور مې واخيست...... اې بچيانو ستاسو كور افغانستان يم...) نور له دې پوښې هم راووتلم د عكسونو پوښه مې راوسپړله، زرګونو عكسونه پكې و، ډېرى يې دنظامي كسانو و؛ خپله يې هم ډېر عكسونه په نظامي ينفورم كې اخېستي و، ځينو كې تنها؛ ځينو كې دملګرو سره ولاړ، او همداسې دپوهنتون نه دفراغت په خولۍ او چپنه كې دجشنوارې د دورې په انفرادي، او همصنفيانو سره په جمعي توګه ئې ډېر عكسونه اخيستي و؛ پسې راتېر شه ډېر نور دغيرې نظاميانو؛ ښو ښو منظيرو؛ ګلانو، حيواناتو... عكسونه پكې ځای په ځای و، خو ددې ټولو سربېره يوه پوښه كې ځانته تقريباً دېوې پنځه ويشت ،دېرش، كلنې ښځې شپږ، اوه عكسونه و؛ څلور يې په يوازې ځان اخيستي و، په دريو نورو كې يو ببرسرى سپين پوستى ماشوم هم ورسره دى، په يوه عكس كې ورسره ناست دى،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل کې ولاړ دي، او همداسې دریم کې یو بل ته غاړې وتلې، داسې تصور ترې کېدو چې مور به یې وي، دا ماشوم به هم خپله همدا دمبایل صاحب وي، ځکه چې یو خوا له کاغذي سابقه عکسو اخېستل شوي عکسونه و، بل خوا دفسبوك په بګروند، لمړي نمایش کې یې هم درې څلور عکسونه له همدې عکسونو ځای په ځای کړي و، نور والله علم.

خلاصه مبایل مې هر اړخیزه چك کړو، ددې سربېره چې ښه نوی، اصیل او قیمتي سیټ دی، لکه څنګه مې چې مخکې یادونه کړې، دکرېډتو، انتریت، هم ډك دی، د (۶۲ جی بي) حافظې له پاسه؛ یو(۸ جي بي) میمري کارډ یې هم درلود. نور مې نو بېغمه خپلې استعفادې ته واچولو، دده فسبوك مې هم بېخي پکې بند نکړو، خپله ایډي مې په بل فسبوك افشن کې خلاصه کړه، څو ورځې ووتلې، هره ورځ به مې یو نوي نوي داسې څه پکې لیدل، چې روح ته

يې پوره ټکان ورکو، دې ته يې هڅولم تر څو يې مبايل واپس خپل صاحب ته تسليم کړم، خو خير په همدې شان څو نورې ورځې هم تېرې شوې؛ اما تر دې دمه هيچا زنګ پسې ونکړو، نور دا فکر هم راته پيدا شو؛ چې صاحب يې، ولې زنګ نه پسې وهي؟ مړ نه وي، تصويرونو؛ او فسبوکي افکاروته په کتو يې دمرګ لايق خو نه دی، خدای ج دې نه کړي.

لنډه دا چې مياشت تېره شوه لا يې هم چا پوښتنه ونکړه؛ نور نو زه هم په دې شوی وم، چې هر څنګه وي، بايد ددې سرې معلومات وکړم؛ که ژوندی وي، مبايل به يې ورته تسليم کړم؛ په همدې نيت ګوشۍ کې دشمارو په لټه شوم؛ يوازې دوې شمارې پکې ثبت وې، يوه مې ونيوله خاموش وه؛ بله مې ونيوه دې هم زنګ نه تېرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فسبوك ته مې يې فام شولو؛ قصد مې وکړ چې په اړه يې دده په خپله ايډي کې يو پوست وکړم شايد فسبوکي ملګرو کې يې په اړه چا ته معلومات وي، واپس ووېرېدم فکر مې: هسې نه د ځان لپاره څه جنجال جوړ کړم.

خلاصه زړه نا زړه مې يې فسبوك ايدي کليك کړه، له راخلاصيدو سره سم کړنګ؛ کړنګ شو، دوه درې مسېجونه ورته راغلل؛ دا دوه يې هسې طنزي تصويرونه و؛ دريم مې راوسپړلو چې کتل مې د (سياره حيا) په نوم يوې نجلۍ ليکلي و:

(- يونس جانه! تاخو هېڅ ونه وېل؟)

د سياري له آدرسه را استول شوي دې خبرې ته مې سودا شوه پورته پسې ورتېر شوم چې کتل مې، دوه مسېجونه يې نور هم کړي و، دلمړي يې له مياشتې زيات وخت وتلی و؛ خپله دمبايل صاحب هم لوستی

(c) ketabton.com: The Digital Library

و، د دوهم بيا (۱۵) ورځې وتلې وې دا نو بيا بې لوستو پاتې وو.

په لمړي مسيج کې يې ليکلي وو:

- يونس جانه سلام!

تر هر څه مخکې هيله ده، کامل صحت، او روحي سکن ولرې.

پس له سلامه باور وکړه کالونه کېږي غوارم دا خبره درته وکړم، خو بدبختانه له يوې خوا پښتني حيا اجازه نه راکوله جرات مې نه شوای کولی، له بلې خوا داسې الفاظ نه و، او نه مې اوس پيداکړي چې اکلاً ستاسره له سرشاره لېونۍ مينې مې، څه ناڅه خو دهر ذربان سره تاپسې د زړه ناره مې درباندې اورولې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library


تر څو تاسره تړلو نړۍ، نړۍ رنګینو هیلو یو تت انځور خو مې درته ښکاره کړی وای.

تر څو، یوه اندازه تاته د اندام، اندام؛ رګ، رګ لوړه تنده مې درته ښودلې وای، او...

په پای کې دهمدې دریو ټکو په کارولو سره یې مسیج را استولی و، نور یې څه نه و لیکلي.

ما هم ګوته پرې کش کړه، دا صفحه مې پورته تېره کړه، د دوهم مسیج په لوستلو مې پیل وکړو،

په دوهم کې یې لیکلي و:

- یونس جانه بیا سلام!

ځواب ته مې دې دوه سترګې څلور شوې څلور اته شوې اته شپاړس، اما بدبختانه رامعلوم نشو، خو اوس په دې فکر یم، شاید مسیج مې دې لوستی وي، مګر هسې خبره دې ګڼلې وي، یا یې نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکرو ته وړی وي، ځکه چې نن سبا ، بل خصوص ددې اجتماعي رسنيو په دوارن کې دا دميني خبره دچل ول مکارۍ، مادي او معنوي مفادو دترلاسه کولو مقوله آله ګرځېدلې.

خو هيله کوم ما دهغه خلکو له جم نه مه شماره، زه مې دخپلې خبرې د رښتينولۍ، کامل اخلاص او ثبوت لپاره ستا هر سوال، هرې غوښتنې ته تياره يم، همداسې ستاسره د واقعي مينې او نورو نه دجداولي په خاطر د يو وړکی ثبوت په حيث وايم: –
زه ځکه نورې نجينې غوندې، ستا په ښه ځوانۍ، ښايسته وېښتو، قد قامت، ملك او شتمنۍ نه يم مينه، چې ته ما تقريباً ديرلس کاله له مخه ليدلی يې هغه وخت وړکی ماشوم وې دګيرې ميرې دې نوم نه و، ويښته دې بې ترتيبه غټ و، د مياشتو خيرن ببر سر، زړې جامې دې په تن وې، يعني دمينې درباندې راتلو هيڅ دركې نه و، همدارنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوس مې دې هم له یونیم فسبوکي انځور پرته، نه ته لیدلی یې نه مې دې ځواني لیدلې؛ نه مې دې موټر، بلډینګونه، او نه معنا راته لرې، نه اړتیا ورته لرم.

طبعاً اوس به دا سوال درته پیداشوی وي، چې نه دې لیدلی یم، نه مې دژوند له نورو برخو معلومات لرې، څنګ امکان لري چې څوك دې بیا د چا سره دومره مینه ولري؟

سوال دې پوره په ځای دی، ځواب کې یې وایم:

– که یاد دې وي؟ دولس دیارس کالونه له مخه چې وړکی ماشوم وې، که څه هم هغه وخت زه له تا وړکی‌ وم، دومره نه پوهېدم؛ خو را وروسته، وروسته چې پوهېدم، په هغه وړکي ځان چې تا له کوم غیرت، جرات، هوښیارۍ نه کار واخیستلو زما

دپلار له جنسي تيري دې ځان وژغورلو، هغه ورځ تا يوازې ځان ونه ژغورلو بلکې زه دې هم بوته درپسې ماته کړم، په همغه غيرت، جريت او هوښياری دې مينه يم، دا ستا دميني يو ځينځير دی چې بند په بند دې پرې تړلې يم، شرنګيږي.

دوهم اوس د فسبوك له لارې په انځورونو کې دنظامي دريشی په متې له رتبې (نښان) قدرت وينم، يعني نن دې زما د پلار، په وړاندې.

دمور سره دې دشوي ظلم دعاملينو.

ستا دکور، ځمکو دغاصبينو او همداسې نورو هغه ځناورو په وړاندې چې ستا له ناتوانی، بېکسی، مظلومی نه په استفاده يې په تا او ستا په ماديانو، معنوياتو ځناورنه حملې وهلې، دتولو په وړاندې دې دغچ اخيستلو په پار هر څه وس کې شته، اما ستا صبر او حوصيلې ته صد سلامم، دا په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستیو دوه، دونیمو کالو کې ستا دمیني دوهم غشی دی، چې پورې ورې رانه وتی.

خلاصه په تولة معنا دې له معنویته، متثره، یم، لکه مور ته دتي خوري

ماشوم غوندې مې دځنګ ته زړه درکیږي، هیله، هیله، هیله کوم ناهیلې مې نکړې.

(په درنښت، دځواب په امید.)

مسیج همدومره و، لکه مخکې مې چې یادونه کړې زه یې هم په مبایل کې بیلو بیلو فعالیتونو ته په کتلو مخکې له مخکې دخپل انسانیت تر سیوری لاندې راوستلی وم؛ اما (دسیارې) دمسیج په لوستلوه؛ دسیارې خبره زما یې هم لیدو، او بندار ته لکه مور ته دتي خوري ماشوم لېونۍ اشتها شوه، او بل خوا مسیج کې دسیارې له خوا دده په تیر ژوند کې ځینو ډیرو عجیب او هیجاني خبرو ته

اشاره شوې وه؛ ددې په اړه راولاړو پوښتنو هم دځواب له لپاره دیونس لیدلو ته ښه سم وادار کړم. پخپله ددې سیارې په باب به څه وایي؟ دې خبرې ته مې بیا تر ټولو زیاته تلوسه شوه.

په همدې فکر کې یو ځل بیا مې په ګوشه کې ثبت دواړه شمارې داېرې کړې، دتېر په څېر بیا یې هم زنګ تېر نکړ، نور نو داسې کومه سمه لاره نه رامعلومېده تر څو یونس مې پرې پیدا کړی وای.

واپس مې خپله فسبوك ایډې پکې راخلاصه کړله، که څه هم ځان ته مې بار، بار ډاډ ورکولو چې ځه څه پسې ګرځې؟ خو روح نه آرامېدو په همدې شان دوې ورځې نورې هم تېرې شوې، دریمه ورځ د ماسپښنین دوې بجې وې نیم غړانګی ویده وم، چې بالښت سره مې لړزه شوه، ور ومې کتل همدې مندلې کوشۍ ته زنګ وو، راپورته مې کړه، د اوکې سره سم مې غږ پرې وکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– بلې!

مقابل کس غږ وکړو!

– سلام وروره ښه یې؟

– شکر دی، ته ښه یې؟

– هو شکر زه هم ښه یم! یوه خبره مې درته کوله که په قهر کېږې نه؟

– نه ولې مهرباني

ویې خندل بیا یې ووېل:

– همدغه سیمکارت چې زنګ مې پرې در کړی، سره له ګوشۍ یوه میاشت مخکې رانه ورك شول، فکر کړم تا پیداکړې؟

– هو!

خندا کې یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ښنا ، څنګه واپس يې راکوې کنه؟

– نه!

– ټوکې کوې که رښتيا وايې؟

– څه ملانصرالدين درته ښکارم؟

د نرمې خندا غږ يې راغلو ، پسې زياته يې کړه:

– ښنا ، ځه نو مبايل دې ستا وي، اما يوه ځواني وکړه!

– څه؟

– شايد ليدلې دې وي، ګالرۍ کې مې د ملګرو عکسونه دي، چې اکثريت يې اوس شهيدان دي، دا هم په هر حال په يوه پوشه کې مې د مور يو اووه، اته عکسونه دي، ته باور وکړه ټوله زندګي مې همدغه عکسونه دي، له هر طريقه چې کولی شې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

واتساف؛ ویبر، مسېنجر او یا هم له بلې ممکنه لارې که راته ودې لېږل ټول عمر به دې دعاګوی یم.

ورغبرګه مې کړه:

– رښتیا؟

– هو، قسم ده!

– سمه ده دا کار کوم، اما په یو شرط!

دخندا سره مکس یې وېل:

– څه؟

ومې وېل:

– ادرس درکوم همدا اوس به په موټر کې راخېژې شپه به ماسره کوې، البته په دې شرط چې قسم به هم سر له همدې اوسه راسره کوې، دسیارې په اړه، او سیارې چې ستا په تېر ژوند کې کومو خبرو ته

اشاره کړې هېڅ به نه رانه پټه وې نه به ذره دروغ وایې!

دلته نو سرې ښه سم وخندل، بیا یې وویل:

– ته به ښه جنت ته ولاړ شې داسې ته خوږ ګوتو خلك نیسه، آورې؟

په خندا مې وروګرځوه:

– هسې مې تلوسه شوې، ستا نه دا کیسه غواړم، اما ډاډ درکوم چې داسې فرض کړه لکه دېوال ته دې چې کړې وې!

خلاصه له ډېرو دلیلونو ملیلونو وروسته مې قانع کړ، وېل یې:

– آدرس راکړه!

– اوس چېرته یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– پلځرخي کې!

– ښنا ، ښنا صحيح، سينما پامير ته راشه له هغه ځای نه د کارته سخي موټر راځي په يوه کې راوخېژه، زه په استادګاه درته ولاړ يم، همدې شمارې سره تماس کې اوسه.

ځه سر مو در خوړوم، يو دوه ساعته وروسته تقريباً ماښام و، چې راورسېدو، له يو تونس موټر نه ښکته شو، سم دم مې وپېژندو، خو لږ شکمن ځکه شوم چې لاس کې يې يوه هندوانه نيولې وه؛ ماويل: هسې نه ددې کورو ځوك وي، يوه لهذه مې صبر ورته وکړ، چې دی دسرك په څنډه ودرېدو، هاخوا دې خوا يې وکتل بيا يې مبايل ته لاس کړ، نور مې شك ورك شو، پرې ور روان شوم؛ دده هم چې سترګې راباندې ولګېدې موسك شو، هندوانه يې چپ لاس ته کړله، ښی لاس يې دغېږو لپار خلاص

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړ، بلاخېره سترې مشې مو وکړه، له پوښتنې وروسته یې وېل:

– کاشکې ستاسو کور بل ځای وای، ددې ساحې نه مې سخت بد راځي!

– ولې؟ دا خو بد ځای نه دی؟

په خندا شو، وېل یې:

– یوه میاشت مخکې راغلی وم، دومره ستونزې راته ترې جوړې شوې، کنې مخکې مې ډېر خوښېدو.

په دې خبرې سره یې زه هم وخندوم؛ بیا مې ووېل:

– دا هندوانه دې، ولې اخېستله زموږ کور له سرک نه لرې دی، اوس یې څوك یوسي؟

وېل یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– زه يې وړم!

بيا مې ورته وويل:

– کور مو هم نور څوك نشته، زه تنها يم، زما بده ايشي!

په خندا کې يې راغبرګه کړه:

– څه خير زما ورسره جوړه ده، د ډوډۍ نه پرهېز يم، همدا به خورم!

خلاصه په همدې ګپ، ګپ کې کور ته ورسېدو؛ مخکې له دې چې مهمانخانې ته ننوځي، مخ يې راوړو، ويل يې:

– وبښه که تکليفېږې نه، لږ د اودس کولو اوبه راکړه، دا لمونځ به وکړو.

اوبه مې ورکړې اودس او لمونځ يې وکړل، بيا مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چای ورته راوکړو؛ دچایو په سر مې پوښتنه ترې وکړه:

– ولې دې دومره پس زنګ پسې ووهلو؟ دا مبایل خو ما تقریباً یوه نیمه میاشت له مخه پیداکړو؟

په ځواب کې یې وېل:

– ما ټول تحصیل نظامي برخه کې کړی ؛په همدې تړاو اوس د سرحدي پولسو په لیکو کې دعاجل کمك قوې افسر یم؛ دسرحد په هر برخه کې چې وضعه اصطراري شي هغلته دکاپې اندازه سربازنو او مهماتو سره ځان رسول زما مسولیت ده؛ هغه ورځ زه او څو نور ملګري مې کارته سخي زیارت ته په چکر راغلي و، چې له وزارت نه یې زنګ راته وکړو، وېل یې:

– په ډیورینډ کرښه د افغان او پاکستاني ځواکونو تر منځ جګړه رامنځ ته شوې اوس هم دوام لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددي خبري په اورېدو سره بس موږ هم عجلې واخیستلو، منډې منډې شوې، مبایل رانه رالوېدلی و، زه سیده ولاړم سرحد ته څو ورځې جنګ کې و، خبر شوی به وې؟ دوی هم څو نفر تلفات لرل، موږ هم د دوه زخمیانو سرپېره، د قاسم جان په نوم یو سر تېری شهید ورکړ؛ که څه هم پس له دریو ورځو جنګ بس شو، خو موږ تر یوې میاشتې همغلته د آمده باش په حساب پاتې شو، هلته هېڅ شبکې کار نه کولو چې زنګ مې درته کړی وای نو په دې خاطر.

ومې وېل:

– ښا صحیح ماوېل چې څنګ زنګ نه وهې خدای ج ناخوسته مړ نه وې، په ګوشۍ کې دې هم له دوه شمارو پرته چې هغه هم بندې وې، نور هېڅ شماره نه وه، کنې ما زنګ درته کولو!

(c) ketabton.com: The Digital Library


– هو رښتیا دا مبایل مې صرف د انټرنیټ لپاره کارولو، نه د بل چا نمبر پکې شته، نه یې بل چا سره نمبر شته!

په همدې کیسو کیسو و؛ چې ورکې وروړ مې دلاس مینځلو ابوه راوړې، لاس مو پرېمنځل ډوډۍ موډۍ مو وخوړه، بیا مو چای را وکړو، ددې دوهم ځل چایو په سر مې اصلي موضع ور واچوله، جیب ته مې لاس کړ، دده خپل مبایل مې راویستلو، پرې راکوز شو، زما په لاس کې یې په دې یوه ګوته کار پکې شروع کړ، ګالري یې راخلاصه کړه، اول یې ها دمور د عکسو پوشه وکتله، بیا یې په دې نورو عکسو زر زر نظر تېر کړو، نور یې له مبایل نه لاس ورتول کړ، وېل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور ودان چې دا عکسونه خو دې نه دي حذب کړي، مبايل پسې ولاکه په ټول ژوند درته راغلی وای مګر...

تر څو يې خپله خبره تکميلوه په دې وخت کې ور وټکېدو، ور جګ شوم چې کتل مې مور مې هندوانه راټوټې کړې پتنوس مې ترې راوخيستلو د يونس مخ کې مې کېښودو له مخامخ نه زه ورته کېناستم، دکېناسو سره سم يې وېل:

ـ کاشکې دومره ډېره يې نه وای رالېږلې، زه دومره نشم خوړلی؛ ستا خو هسې بده ايشې نه يې خورې!

ومې خندل، ورغبرګه مې کړه:

– هو؛ دا خو ده، اما تا دې چې پرهېز مات کړ، ډوډی دې وخوړه، زه هم نن ستا په خاطر خپل ذوق تر پښنو لاندې کوم، بل دا چې دمېلمه سره ګوتې وهل ثواب لري، خبر به يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


دلته نو دوارو یوه وړه خوله خندا وکړه، پسې پیوست څه نورې ټوکې ټکالې شوې، بلاخېر ورته ومې وېل:

- سرېه! تا خو د سیارې په مسیج او کیسو ببخي خاشه اچولې شروع وکړه کني منه که مبایل رانه یوسې.

په خندا شو، بیا یې ووېل:

- د مبایل له ورکېدو مخکې دسیاره په نوم؛ یو تخلوص هم پسې و؛ اوس مې هیر دی چې څه و؛ یو مسیج راغلو په دنده کې وم، نیم او نیمکله مې ولوستلو، تر څو مې دصحیح لوستلو کاپې وخت ورته پیداکو مبایل مې ورك کړو؛ هر څه پکې ولاړل، ته صبر اوس یې وګورم چې څه یې ویلي بیا به پرې وغږېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس يې ور وغزو د دوارو تر منځ په پوشتۍ ايښی مبايل يې ورجګ کړ، دمسيجونو په لوستلو يې شروع وکړه؛ ما دا بل لور ته ځنګ ووهلو، چای مې راواچولو، خاموش کيناستم تر څو مسېجونه ولولي، يو وخت مې کتل چې مبايل يې واپس په همغه خپل ځای کېښود، رنګ يې تك تور شو، تول سوررونه يې ګډ وډ شول، حتا غږ يې هم تغير وکړو.

په خندا کې مې ورته ووېل:

– لکه چې تر اوسه دي مينه نه وه کړې، لمړی ځل دی چې ديوې نجلۍ له خوا داسې غږ آورې، ځکه يې دومره تاثير درباندې وکړو؟

– نه دغه خبره نه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ښنا، نو بیا له ما وشرمېدې په ځینو رازونو دې چې سیارې رابرسېره کړي؟

– نه، دغه خبره هم نه ده!

– ښنا، خې بیا نو ولې دومره تور او شین واوښتې؟

– یعني کیسه غواړې، نه مې پرېږدې؟

– هغه د ورځې مبایل کې راسره کړې قسم دې که درته بې معنا وي؟ مه یې کوه!

دلته مې بیا لږ راموسکی کړ.

ویل یې:

– د سیارې مسېج ته په کتو پوهېږم چې ته له ما دکومو، کومو پوښتنو ځواب غواړې، خو ددې ټولو پوښتنو ځواب کې دې زه، یوه وړکۍ کیسه کوم

انشاءالله په نوبت نوبت به دې هره پوښتنه پکې ځواب شي ته صرف غوږ شه!

خبره داسې ده چې زه د (..........) ولایت( ....... ولسوالۍ او (..........) کلي دپلانکي (..........) زوی یم، دېنځو کالونو په عمر وم، پلار مې یوه چاودنه کې خپل ځان له لاسه ورکړو، بدبختانه یتیم شوم، یتیمي هم خیر بلا پسې ددې وطن په هرو لسو ماشومانو کې یو، دوه یتیمان دي، اما زما تر ټولو ستره بدبختي دا وه، چې په داسې یوه کور، کلي، داسې یوه محیط کې یتیم شوم، که څه هم ځانونه یې مسلمان ګڼل خو کړه وړه یې په تمامه معنا هغه د (لوط ص) دقومیانو و؛ یعني لواطت، زنا ، غصب، وژل، ځورول او همداسې نورې هره مردار خورګي پکې دمېړنو خلکو خاصه او ویاړ ګڼل کېدل، نه یې له الله ج ذره وېره درلوده؛ نه یې دشرم او حیا په نوم څه پېژندل؛ څه سر دې در خوږوم؛ تر څو مو دپلار له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویر نه سترګې وچې دې په مور مې یې منګولې خښې کړې؛ مشر، مشر کاکا مې نکاح کړه په داسې حال کې چې زما مور دده د کشرې لور همزولې راتلله، سینږیری وو، لنډه یې دا چې له مور نه یې هم په ژوند یتیم کړم، نور مې مور دکاکا دکور مینځه شوه، او همداسې زه یې مریی دواړه د کاکا، دکاکا دمشرې ښځې، زامنو، لورګانو، میلمنو، غواګانو، پسونو، ځمکو په خدمت کې شپه او ورځ سر په تلاق اوښتو، که څه هم یوه کور کې اوسیدو، خو ما او مور مې په دریو څلور ورځو کې دیوې، دوه صحیح خبرو موقع نشوی پیداکولی، ها کیناستل؛ ځان او جامې راپاکول، یا نور هغه دمور او بچیانو تر منځ راز او نیاز خو په ځای پرېږده.

دا هم په هر حال، مور دپلار په دوران کې ځان ته کور درلودو، دری څلور جریبه باغونه ځمکې مو درلودې تر ټولو کاکا ګانو نه مو ژوند او اقتصاد ښه

و، پلار مې د دارعلوم مدير وو؛ ښه معاش يې لرلو؛ ځمکې مو دهکان کاله کولې، بس دالله ج تر رضا قربان شم، کله چې دا پيښنه وشوه، کاکاګانو زما او د مور په شمول مې کور، ځمکې هر څه يې په خپل کورو کې ور متغم کړل، نور به نو صرف دهغه او دغه د څېرې له وېرې او بچ کېدو په پار شپه، ورځ په هغه خدمتونو چنګاو وم، چې زما له توان نه به ډېر دراندہ وو؛ او همداسې مور مې هم، لکه څنګه مې چې پورته يادونه وکړه، دلته تنها زموږ کورنۍ داسې خدای ناترسه نه وه، عام ذهنيتونه همداسې وو، دکلي نورو خلکو هم چې څنګه استفاده رانه کېدله کوله يې، او دا تنها زما حال نه و، دلته دهر يتيم، کونډه، بې کسه، بې وسه لپاره ځمکه سور تنور وه، په همدې اساس د خپلې کورنۍ سربېره دکلي له اکثريت خلکو ډېرې پستې ډېرې بدې، خاطرې لرم؛ چې دهغې ټولو کمه، کمه

(c) ketabton.com: The Digital Library


یادونه هم شپو شپو وخت ته اړتیا لري، تر نورو به تېر شو، ددې ټولو له نمونې به دسیارې دپلار کوم چې مسبح کې سیارې هم اشاره ورته کړې، درته وکړم.

یوه ورځ مې دکاکا دوهم زوی پیسې راکړې دوکان ته یې په سیګریټو پسې ولېږلم؛ ولاړم سیګریټ مې واخیستل کله چې واپس راتللم په لار کې مې دسیارې پلار ولیدو له همدې دوکان نه یې دسودا دروند پیټی راپشاه کړی و؛ د انسانیت، ثواب، مشرانو ته د احترام له مخې مې پیټی ورسره راسپك کړو، دلوبیا او دال نخودو پلاستیکي خلتې مې ترې راوخیستلې، ددوئ کور زموږ له کورنه څو کورنه رامخکې و، کله یې چې تر دروازه ور دننه شوو، وېل یې:

– خلتې په مخامخ سپاچه کېږده، زه وراندې تېر شوم؛ ده ځای په ځای دحاویلۍ منځ کې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library


پنډوکی کېښود، دروازه يې ځينځير کړه، مخکې راتېر شو، چپ لاس اتاق طرف ته يې اشاره وکړه؛ ويل يې:

– ته راشه دلته يو څه دي، کاکا ته يې دې ور وړه، په غلته اراده يې پوه شوم، له تللو مې انکار وکړو، نور يې لاس راواچولو په زور يې کشکوم، که څه هم دی پوخته ځوان و، زه وړکی دولس دیارلس کلن ماشوم وم، بيا هم دالله ج مرسته وه، ډېر وخت مو کشوګير و، خو اطاق ته يې ننه نه ايستی شوم، بلاخېر اطاق ته تر دننه کولو مې تېر شو، نور يې غوښتل چې همدلته حويلۍ کې خپله شهواني تنده راباندې ماته کړي، خو شکر دلته هم ونه توانېدو، که څه هم جامې مې يې راوشکولې، موشت، موشت ويښته مې يې لاسو کې ورپاتې شول، له خولې او پزې مې سرې وينې رواني وې، اما بيا هم دالله ج مرسته و، په دې اخېر کې چې نور له ټيپه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


لويدلى وم؛ يو موټى ايرې په لاس راغلې دا مې سترګو ته ور وشيندې، دى په خپلو سترګو شو، ما دومره موقع پيداکړه چې د دروازې ځينځير مې پکې خلاص کړو، ترې راوتښتوم. نور نه يم پوه چې سياره چېرته وه، له کومې خوا يې ليدلى يم؟ مخامخ د بالاخانې کړکۍ وې، کېدى شي له بلاخانې يې زموږ سيل کړى وي، اما کله چې کور ته ولاړم ددې سربېره چې ډېر ځنډه مې کړى و، جيب کې مې سيګريټ هم مات شوي و، ددې جرم په مقابل کې بيا دلته د کاکا زوى ډېر بې رحمه ووهلم.

(دشهادت ګوته يې راته ونښودله ويل يې: دا ويني چې کړې، وړه ده؟ دا همغه ورځ د کاکا زوى راماته کړه، بيا صحيح جوړه نشوه)

پسې زياته يې کړله ويل يې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ خلاصه لکه ځنګه مې چې مخکې هم يادونه وکړه دسيارې دپلار کيسې ته ورته حتا تر دې هم تورې بدرنګه لسګونه خاطرې زه دخپل کور او کلي له خلکو لرم، ببنلي مې نه دي، او نه يې ببنم.

دا هم په هر حال، څه وخت وروسته مې کاکا چې زما مور يې نکاح کړې وه، بېخي ضعيفه شو، نور دهېڅ کار نه و، زامن يې نااهله و، هغوئ هم مرسته نه ورسره کوله، همدا و، چې اقتصاد مو بېخي صفر شو، دسمې لوږې سره مخ شو، په دې شپېو ورځو کې يوه ورځ يې دهمدې مشر ورور پوښتنې ته يو بل په ده پسې کشر ورور يې راغلو، يعني دوهم کاکا مې، چې دا به تل په مسافريو کې و، دې چې زموږ اقتصادي خراب وضيت وليدو، خپل مشر ورور ته يې ووېل:

– په (............) ولسوالۍ کې د (............) کلي ملك رحيم دخپلې مهمانخانې لپاره هر کال يو برابر

(c) ketabton.com: The Digital Library


ماشوم مزدور نیسي، اوس یې هم زما یو ملګري ته وېلي چې یو بیدار هلك راته راپیدا کړه، نو که ستا زړه وي، دا یونس به ورولېږو، کال وروسته یو نیم خروار غنم ورکوي؟

کاکا مې وویل:

- ولې نه، ورسره وغږېږه چې بل څوك ونه نسي!

لنډه یې دا چې سبا نه، بل سبا یې ور روان کړم، کله یې چې تر دروازه ایستلم، مور مې داسې بې اختیاره چیغې وکړې، هر څه به مې حېر شي مګر دمور هغه درد به مې حېر نشي.

بلاخېره کاکا مې یې ملګري ته تسلیم کړم، یوه شپه مې هلته وکړه سبا هغه سره موټر کې سور شوم تقریبا څلور، پنځه ساعته مزل مو وکړو، لاره کې مو یو ځل موټر هم بدل کړو، له یوه نه بنکته شو، بل ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وختلو، مقصد قضا ماسپښين و، چې دملك رحيم کور ته ورسېدو، دکاکا ملګري مې زه ورته تسليم کړم، خپله واپس را روان شوو، که ځه هم ملك صيب ډېر ورته ټينګ شو، چې کينه يو چاى وڅښه، خو ده ويل:

ـ ځم ناوخته کېږي، ددې سړي را روانېدو سخت تاثير راباندې وکړو، باور وکړه په ډېرو سختو حالاتو کې مې نه دي، ژړلي اما دلته ژړا راغله.

خو په هر حال لنډه يې دا چې دلته مې خپل ژوند پيل کړو' ملك صيب بد سړى نه وو، او همداسې ښځه يې ډېره ښه ښځه وه، دوي، درئ شپې خو يې ديو ګلاس پورته کولو هم راته ونه ويل، پس له دريو ورځو يې کرار کرار زما مسوليتونه راته وښودل، د مسوليتونو تر څنګ مې دخپلو بچيانو سره يې جومات ته د درس او لمانځه لپاره دتلو، همداسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکور لپاره يې چې استاذ ورته نيولى وو، دبچيانو سره يې يو ځاى چې زما په سن او سال، يا لږ غټ او واړه وو، د درس ويلو وخت راکړو، دا چې په خپل کور کې بېخي ډېر او درانده کارونه زما په سر وو، دملك صيب په کور کې مې ځان داسې احساسو لکه دوزخي چې جنت ته ولاړشي، د وخت په تېرېدو سره ملك صيب ښه رانه ډاډه شو، زه هم خوشحاله وم، تر کارونو مې اختيار تېر و، يوازينى درد مې په مور روان ظلم، شاخه کارونه، ديو او بل له خوا وهل ټکول، او همدارنګه زما د راتلو په وخت ددې د سوو چيغو ياد و، دې درد نو څلورويشت ساعته کړولم، او دا آرمان به مې هم کوو: چې کاشکې زما له آرامتيا ، خو چا خبره کړې واى، اوس به ځان ترې حير وي، ماپسې به زړه خوري، بس په همدې آرمان، دکال دپوره کېدو په انتظار مې شپې او ورځې شمارلې تر څو کاکا مې په مزدورۍ پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشي بيا به زه هم ورسره لاړشم؛ مور به مې ووينم، له خپلې اسوده ګۍ به يې خبره کړم؛ نور به ډېر زړه نه خوري.

په دې وخت کې يې يوه غټه ساه واخيسته، بيا يې وويل:

- خلاصه ورځ تر بلې د روخصتۍ د رانژدې کېدو، مور ته دتلو په اميد مې ځان ته ډاډ ورکو، په همدې شان مې نهه مياشتې دملك صيب کور کې تېرې شوې، نور مې نو دوې مياشتې روخصتۍ ته پاتې وې، اخيرنۍ مياشت مې نو ټول روخصت وه، اګر چې دلته هم خپه نه وم؛ نه مې نور خپل کور، کلي ته زړه کېدو، صرف مور مې نو سخته يادېده،

بلاخبره په همدې شپو ورځو کې يوه ورځ د نورو ورځو په څېر دملك صيب د دوه زامنو او يوې لور سره دسهار ټيم درس وېلو لپاره مسجد ته ولاړم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسجد ته ددا خلیدو سره سم دملك صیب مشر زوی (سردار) چې زموږ تر مخ وو، سلام یې واچولو، دمسجد په تبۍ یو څو کسان ناست وو، سلام یې علیك کړو، وړاندې دېوال ته یو بل سپینږیري ډډې وهلې وه، چې ورته ومې کتل زموږ یو کلیوال و، خدایزده له کومې خوا به راغلی وو، خو په همدې مسجد کې یې مسافرانه شپه کړې وه، ورغلم سترې مشې مې ورسره وکړه، ده ونه پېژندلم، وریاده مې کړه د پلانکي زوی د پلانکي لمسی یم، نور یې وپېژندلم وېل یې:

– بنا، بنا شابس ماشاءالله ځوان شوی یې، پلار دې خدای ج وبښه، هغه وخت ته ببخي وړکی وې، پسرلی دې دمور جنازې ته هم درغلی وم؛ ستا پوښتنه مې وکړه، ماوېل زه به دې ووینې، چې وړکی یې، که غټ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې له دې چې خپل مطلب تکمیل کړي، خبر کې یې ور ولوېدم، زر مې ووېل:

- زما د مور جنازې ته؟

راغبرګه یې کړه:

- هو، ولې کاکا دې (شیردل خان) چې نکاح کړه ستا مور نه وه؟

ددې خبرې تر اورېدو وروسته په ځان نه یم پوهېدلی، که څه هم څه وخت وروسته هغه خلکو راته وېل: داسې چیغې دې وکړې چې درس ته راغلي ماشومان ټول له مسجد نه وتښول، خو زه په خپلو چیغو هم نه یم خبر شوی، او نه په دې پوه یم چې چا یوړم، خو یو وخت مې چې سترګې وغړولې

(c) ketabton.com: The Digital Library


شپه وه، دکلی په کلینك کې وم؛ سیروم راته بسته وو، تر لږ څه زیات رابیدارېدو وروسته په همغه شپه کې کور ته راروان شو، ملك صیب او یوه خور یې هم راسره وو، په لار بیا راته دهغه سپینږیري خبره یاد شوه، دا ځل بې هوښه نشوم خو ژړا مې نشوی کنترلولی تر کوره مې په چیغو چیغو ژړل؛ په تول ددې ټول عمر کې چې دملك صیب سره مې تېر کړی وو، تش تندی مې یې دځان په وړاندې تریو نه و لیدلی، اما دلته به سخت په قهر شو، بار بار یې دوهلو ګوابن راته وکړو، خو دا چې ماته مې دټولې زندګۍ په میراثه کې یوه مور، هغه هم دظالمانو په غېږه کې ګروګان راپاتې وه، نن له هغې هم خلاص شوی وم؛ حتا جنازې ته یې هم چا نه وم وروستلی، زړه مې سخت درد کوو، په خپله ژړا مې اختیار نه درلودو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور ته له رسېدو سره سم زما دحال په لیدو، د ملك صیب ښځې، خور یې، بچیانو یې هم ښه پوره راسره وژل، ملك صیب ډاډ راکولو چې ژاړه مه سبا دې کورته بیایم، ټول دوستان به دې ووینې، ښې ډېرې شپې ورسره وکړه.

دملك صیب دې ډاډګیرنې مې لا په زخمو مالګې و دوړولې.

په سلګیو سلګیو مې ورغبرګه کړه:

- زه نور هغه کور ته نه ځم؛ که ته مې له خپل کور او کار نه ددایم، لپاره رخصت هم کړې، سرصحرا په غرونو ځم، اما هغه کور ته نه ځم.

ملك صیب وویل:

- ولې پلار، دکورنۍ نور غړي دې نه یاد ېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې خبرې په کولو سره دی، ملامت نه وو، ځکه چې ما به ددوی په مخکې تل دمور تر څنګ دکاکا نوم هم کاکا نه بلکې پلار یادو، او همداسې اولادونه به مې یې خویندې او وروڼو یادول.

دلته نو دیوې خوا دده په ځواب کې مجبور شوم؛ له بلې خوا، درد اخیستی وم، داصلي پلار دمرګ، وروسته دکاکا له خوا مې دمور نکاح، د کور، ملك او مال چور چپاول ......

یعني ټوله کیسه مې ورته وکړه، ملك صیب هم په زړه ډېر نرم انسان وو، دکیسې په اورېدو یې تر ما ډېر وژړل، په عین حال کې یو ځل بیا په قهر شو. وېل یې:

تا ولې مخکې دا کیسه نه کوله، خو بیا هم چورت خراب نکړې، ته نور دهیڅا زوی نه یې زما زوی یې، زه به دڅا ځه، او څه وکړم چې درېسې راشي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلاصه لکه څنګه یې چې وویل، تر دې وروسته یې دلباس، خوارو، او بل هر ناز او نزاکت له حسابه تر خپلو بچیانو کم ونه شمارلم، که څه هم ما مکتب نه و، ویلی مګر ښه وم، ددې څو میاشتو په لړ کې مې مسجد  او کور کې دده دبچیانو سره د درس ویلو په نتجه کې دده دبچیانو په اندازه لیك او لوست زده کړي و، په داسې حال کې چې دده بچیان په اتم او نهم صنف کې وو، دا استدا به مې مخکې له مخکې هم ملك صیب وخت ناوخت ستایلو، په دې وخت کې یې نو خپلو بچیانو ته سې پارچې جوړې کړې وې، نور یې نو دکلي له لیسې د ولایت مرکز کې دافغان ترك لیسې ته انتقالول، زما سره یې د زوی واله تر وعدې وروسته دهغه سې پارچې وځنډولې، زما په کارونو یې شروع وکړه؛ ملك صیب د منطقې برحاله ملك و، په ولس کې یې ښه محبوبیت، ښه نفوس او قدرت لرل، او همداسې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر چا یې ښه ناز چلېدو، په همدې تړاو یې په تول د پنځلس، شلو ورځو کې دکلي په لیسه کې په مدیر صیب او استاذانو تر نهم صنفه ښه پاك اسناد راته جوړ کړل، نور یې نو سې پارچه راته جوړه کړه، دخپلو بچیانو سره سم یې د ولایت مرکز کې دافغان ترك لیسې کې شامل کړم؛ دلیلیه کارونه مو یې راته جوړ کړل، دلته یې هم ډېر استاذان پېژندل هغوی ته یې معرفي کړو، وخت ناوخت به یې فام راباندې کوه.

نور په دې نه یم پوه چې په ما او مزدورۍ پسې به مې بیا زما له کورنۍ څوك راغلل وي، که به نه وي راغلي؟ خو که راغلي هم وي، دملك صیب سره یې وس نه کېدو. طبعاً ډېر بې خونده به یې ځواب کړي وي.

را به شم خپلې مخکنۍ خبرې ته مې، بلاخېره درې کالونه مې په افغان ترك لیسه کې درس وویلو، پس

له دريو کالو له دولسم صنف نه عمومي دريم نمره فارغ شوم؛ دملك صيب يو زوی چې زما همصنفی و، څورلسم نمره شو، ها بل خو يې لا په يولسم صنف کې و، مقصد، ژمی مې د

ملك صيب په کور کې تېر کړو، پسرلی مې بيا دده په مشوره او همکارۍ کابل کې نظامي پوهنتون ته امتحان ورکړو، ځکه چې زه له بې نظمۍ او بې قانونۍ ډېر کړېدلی وم، دنظام دنوم وږی، تږی وم، ډېره مينه مې ورسره درلوده.

څه وخت ورسته چې نتايج اعلان شول، خوشبختانه کامياب وم، نور مې نو دڅلورو کالو لپاره دلته زده کړې وکړې، د درس له پلوه مې خپله ډېر کوشش کو، مالي مرسته مې ملك صيب کوله، ان تر دې چې څلور کاله وروسته مې ديو ممتاز محصيل په حيث خپل اسناد ترې ترلاسه کړل، نور مې نو د سرحدي ځواکنو په ليکو کې رسماً ديو افسر په بڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنده واخیستله، چې تر ننه دری کالونه کېږي چې
نموړېي دنده مخ ته وړم، اوس شکر په هر ځه برلاسی
یم، داسې فرض کړه چې دټول هیواد قدرت له
ماسره دی، ځکه دهرې ساحې قومندان، او واکمن
مې همصنفی او ملګری ده، یعني که وغواړم چې له
هغه خلکو مې غچ واخلم، یکه یکه یې سر په تندي
راځوړندوم، اما نه غواړم ځکه تر مانه الله ج بنه سزا
ورکوي، دوه کاکاګان مې مړ دي دا خو هسې
دخدای ج حصور ته ورغلي، دریم چې ژوندی دی،
دا پوهږي دی اوس یې دکابل په پل سخته کې
دکابل دسیند مرداری خوراك دي، زامنو یې
دځمکو په سرجنګ سره وکړو دوه یې له یوې خوا
ووژل یو له بلې خوا، ها پاپې نور یې لا هم دیو بل
لپاره خلاص چاقوګان جیبو کې ګرځوي، همداسې
دکلي هغه فرد، فرد چې ماسره یې ظلم زیاتی کړی،
ته باور وکړه پرودیګار سر په دنیا دوزخیان کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو غذاب نه، یو عذاب پرې نازل دی بنه په خوند کړېږي، نو ماته حاجت نشته؛ ددې ټولو له جملې یوازینی کس همدا دسیارې پلار ده چې لا هم تکړه په آرامه خپل کار او کسب کوي، ددې لپاره څه وخت له مخه ما تصمیم ونیولو، تر څو د راسره کړې هغه جفا په وړاندې یې یو ګوزار ورکړم، اما واپس ځکه پښېمانه شوم چې یو دوه بچیان یې لا واړه دي، فکر مې وکړو، که په دوه، دریو څپړو یې رنګه بدوم، دا خو مناسب نه ده، او که له منځه یې وړم یا یې د ابد لپاره بستري کوم دهغه ماشومانو سرنویشت به یې په ها خدای ناترسه کلي کې زما په شان شي، لاحول ولاقوت.... مې وویل دوه رکعاته لمونځ مې وکړو نور کرار کیناستم، څه ماویل پروردیګاره! ته پوه شه او کار دې، زما دې صبر تاته وي.

نور یې وخندل وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– داسې غورې دي ایا کومه پوښتنه دې بې ځوابه پاتې ده؟

مسکی شوم ورغبرګه مې کړه:

– شکر چې را وروسته وروسته دې کیسه سمه کړه کني نور مې دې په خوله لاس درته ایښولو، نژدې دې زړه راته چاودلی و.

خو په هر حال رابه شم دې خبرې ته چې که فام دې وي، دسیارې مسیج ته په کتلو دسیارې دپلار په وړاندې صبر دې رنګ راوړی؟

په خندا یې راغبرګه کړه:

– ولا څه ووایم!

خندا کې مې وروګرځوه:

- نه، داسې يې نه منم که غواړې چې دمبايل دې واپس صاحب شي، پاکه خبره وکړه، دسيارې هيلې او آرمانونه به څنګه شي؟

په موسکا سره يې وېل:

- ته صبر، لکه څنګه چې مسيج کې سيارې وېلي و، ها خبره يې زما ډېر خوښه هم شوه همداسې ماته هم تر ظاهر نه باطن او معنويت ارزښت لري، زه به يې دناستې، ولاړې، ځينو نورو حسابونو په اړه چې اړين دي لږ لږ معلومات وکړم، نور خو نو زه هم داشرف غني زوی نه يم (دمسکا په زياتوالي يې زمينه سازي ورته وکړه) پسې پيوست يې ووېل:

- بيا خو نو زه او ته شته يو انشاءالله. (ياران زنده صحبت باقي.)

خندل مې ورغبرګه کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- قسم بل راته کوې که، همدا مخکنی صحیح دی؟

په همغه مسکي انداز یې زیاته کړه:

- نه، همغه صحیح ده.

په دې خبره پسې دواړو یوه خوله وخندل او همدا مو دمجلس اخیري شوه، نور نو قریب دوې بجې وې ویده شو، تر شپه تېرېدو وروسته، سهار یې چای راسره وخوړلو، نور یې وېل: ځمه، که څه هم ډېر ورته ټینګ شوم خو ځیني اړین کارونه یې بهانه کړل، مبایل یې ورپورته کړو، غوښتل یې چې مېموري کارډ ترې وباسي، وېل یې: مبایل نه وړم.

لاس مې یې ونیوو مېموري کارت استلو ته مې پرې نښوو، خندا کې مې ورغبرګه کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– واچوه جیب ته ما چې داسې ډیسې مبایلونه اخیستلی له سره مې تماس نه درسره نیولو،

دی هم په خندا شو مبایل یې جیب ته کړو، دچپ لاس په منځنۍ کوته یې یوه غټه دسپینو زرو ګوتمۍ وه، د فیروزې غمی یې درلود، دا یې راویستله وېل یې:

– امم واخله خه؛ دا ډیسي نه ده.

په دې کې نو ما هم څه ونه وېل، نر غوندې مې دیو ښه ځوان یا ملګري دیادګار په ښه دخورا شوق او مینه سره ترې په ګوته کړه، ډېره ښه جوړه هم راغله؛ نور ورسره روان شوم په استادګاه مې خدای ج پماني ورسره وکړه، دی ټکسي ته وختو، زه واپس دکور په لور راروان شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یونس، سره د پورتنۍ مرکې مې پوره یولس مایشتې ووتلې، پرون یې زنګ وهلی وو، تر اولیه سلام، کلام وروسته یې وېل:

- دمیدان هوايي په سرك د(............) ودونو تالار په دریم او څلورم سالون کې زما او سیارې کوژدې زموږ د دواده مراسم لمانځې له تاسو ښاغلو او آغلو په خورا مینه، هیله ده چې تنها مو پرې نږدئ،

بلاخیر بېګاه موږ هم فامیلي ورغلو له هر اړخه ښه مستانه او رنګین واده یې برابر کړی وو.

یونس له ډوډۍ خوړلو مخکې دهوټل نه بهر دروازه کې دیوې دقیقې لپاره راسره ودرېدو په منډه منډه خندا خندا یې وویل:

ـ سیاره ترکیه کې وه، ولاړم دهغه څه په اړه مې ځان ښه مطمین کړ چې مخکې مې درته وېلي وو، بیا دا راغله کابل ته، ډاکتره ده، پیسې میسې لري، ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ مو دميکرويانو په بلاکو کې يو کوټکی واخيستلو، لږ فرشو ضرف مو واخيستلو، نن نو پخير دا معامله ده چې وينې يې، باقي دې الله ج خير کړي، خندا ته يې څه زور ورکړو لاس مې يې ور ونيوو څېره يې شړکنده زما څېره کې ووهله نور رانه روان شو.

(پای)

**محمد نعيم وردګ**

**Get More e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**